# مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا». "چا چې په ښه توګه اودس وکړ، بیا د جمعې لمانځه ته راغی، چپ کېناسته او غوږ یې ونیوه، نو په دریو ورځو سربېره به یې د دواړو جمعو تر منځ ګناهونه وبخښل شي، او څوک چې په شګو کې لاس ووهي نو د هغه جمعه لغوه شوې ده.»

[صحیح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې چا ښایسته اودس وکړ؛ رکنونه، سنتونه او آداب یې پر ځای کړل او بیا د جمعې لمانځه ته راغی، چپ شو او امام ته یې غوږ ونیو، له بې هوده ویلو چپ پاتې شو، نو الله تعالی به یې د لسو ورځو واړه ګناهونه ورته وبخښي؛ د دې جمعې د لمانځه څخه تر راتلونکي جمعې پورې او درې ورځې پرې اضافه؛ ځکه چې نیکي یو پر لس چنده ده. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر هغه کار په اړه خبرداری ورکړ چې د خطبې له پندونو او نصحیتونو څخه زړه مشغولوي لکه: په اندامونو عبث کارونه کول، مثلا په ګېټو (کاڼو) کې ګوتې وهل او داسې نورې بې ځایه کړنې او دا چې چا دا کار وکړ نو هغه عبث کار کړی، او څوک چې عبث کار وکړي نو د هغه لپاره د جمعې په بشپړ اجر کې برخه نه شته.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee